حقیقت

# له خپل دښمن نه زده کړو



داکتر طلا پامیر

څه موده مخکی د بی بی سی ویب سایت دپاکستان دیوه لوړ پوړی امنیتی  چارواکی جنرال محمود شاه  مرکه خپره کړه چی دافغانستان اوپاکستان د اړیکو په اړوند یی کړی وه. دی ښاغلی  دیوی پوښتنی په ځواب کی چی ولی پاکستان له طالبانو پرته، له بل هر  افغان حکومت سره چی په تیرو دریو لسیزوکی په افغانستان کی واکمن وو، ستونځی لرلی،  وویل " ... پنجابیان یو " حکمت " لری چی وایی " کام چلاو  " یعنی خپل  مقصد مخکی بوزه.  نوموړی زیاتوی چی " دپاکستان د پوځی اوسیاسی واکمنو سره په ناستو کی زما وړاندیز دا وو چی افغانستان باید دیوه آزاد ملک په توگه په رسمیت وپیژندل شی او مونږ خپلی غوښتنی پر هغه ( افغانستان)  و نه تپو"

 جنرال محمود شا وایی چه  د پاکستان دجوړښت نه را پدی خوا پا کستان او افغانستان دپښتونستان اود ډیورند د کرښی پر سر یوله بل سره دښمن وو خو اوس  دډیورند کرښه ستونځه نده . دده په وینا  " په کال  ۲۰۰٤ کی د ( افغانستان، پاکستان اوامریکی) ددری اړخیزه کمیسیون په غونډه کی چی ځینوامریکا یانو هم پکی برخه لرله، افغانی پلاوی دافغانستان اوپا کستان تر منځ دپولی ( سرحد) یوه نقشه له ځانه سره راوړی وه. په دی نقشه کی هغوی دډیورند دکرښی افغانی غاړی ته په مهمند اجنسی کی ٦ کیلومتره نوره  زیاته ځمکه پاکستان ته وربښلی وه  خوما ( جنرال محمود شاه) هغه بیرته افغانستان ته ور ستنه کړه او ومی ویل چه دادی افغانستان دخاوری برخه ده "

 اوس که  دجنرال محمود شا خبره رښتیا وی او دډیورند دکرښی حقوقی وضعیت دافغانستان اوپاکستان تر منځ د ښو اړیکو په مخ کی خند نه دی  او  افغان حکومت ان دی ته چمتو وی چی پاکستان ته  په افغانستان کی دسولی دبهیر سره دمرستی په بدل کی دخپلی خاوری څو کیلومتره نوره برخه هم ور وبښی، نو بیا پاکستان له افغانستان څخه نور څه غواړی؟  جنرال محمود شا  دخپلو خبرو په لړ کی دی پوښتنی ته هم ځواب ویلی دی او  هغه داچی " افغانستان د پاکستان دښمن ( هند) ته ددوستی لاس ورکړی ؛ آیا افغانانو روسانو ته ددوستی لاس ورکول ( ددوستی دلاس ورکولو پایلی) هیری کړی دی؟ پریږدی چه هندوستان افغانستان ته نږدی شی؛  پاکستان له هندوستان څخه نه ویریږی؛ په افغانستان کی یوه سیمه شته چی نوم یی هندوکش دی؛ داسی ورځ به راشی چی افغانان، هندوان له خپلی خاوری وشړی؛ اووس په افغانستان کی دپاکستان ضد کارتونه خرڅیږی؛ تاسی یو وار په کابل که غږ پورته کړی چی مړ دی وی  پاکستان ! اوبیا وگوری چی څومره خلک مو پر شاوخوا را ټولیږی. "

دپاکستان ددی امنیتی چارواکی خبری چه څه ناڅه لس کاله یی دخیبر پښتونخوا په سیمه کی دنده تر سره کړیده، دافغانستان په اړوند دپاکستان له دوښمنۍ نه د ډکی ستراتیژۍ په باب هر ډول شک له منځه وړی. اوس دافغانستان حکومت باید په دی پوهیدلی وی او یا پوه شی چی دپاکستان سیاست جوړونکی کړیَ د زاړه انګریزی استعمار دمیراث خورو به شان غواړی چی دافغانستان داخلی او بهرنی سیاست دپا کستان په خوښه وټاکل شی.

هغوی غواری چی په افغانستان کی داسی یو حکومت جوړشی چی هرو مرو دپاکستان دوست وی، داسی دوست چی که هرهغه څوک دلته په افغانستان کی دپاکستان د لوړ غوښتنی او ورانونکی کړنلاری په وړاندی دمخالفت غږ پورته کړی، ژر تر ژره و ټکوی؛ امنیتی چاروکی د ای اس ای په خوښه وټا کل شی؛ دافغانستان پوځ په درنو وسلو او پوځی نوی تکنالوژی سمبال نشی؛ دافغا نستان بازار باید تل دپاکستان دصنعتی توکو پر مخ خلاص وی؛ افغانستان دخپلو اوبو له زیرمو او سیندونو څخه چی د پاکستان په لور بهیږی ګټه پورته نکړی؛ پاکستان له هر ډول خنډ پرته دمنځنۍ آسیا بازارونو ته لاره ولری؛ له هند سره په احتمالی جګړه کی دافغا نستان له خاوری څخه دجګړی تر شا سیمی په توګه ګټه و اخلی.

دبهرنی سیاست په دګر افغانستان ته ښایی چی دپاکستان له سلا اومشوری پرته له هیح بل بهرنی هیواد سره ددوستی اړیکی ټینګی نکړی.

د حیرانتیا وړخو داده چی پاکستان دخپلی زیږدنی له لمړیو ورځو نه را په دی خوا له امریکی اوانګلیس سره د اوږد ی مودی ستراتیزیکی اړیکی لرلی دی خو نه غواری چی دافغانستان دولت د پاکستان ددغو تاریخی دوستانو سره هم دستراتیژیکی ملتیا ورته اړیکی ولری، هند او روسیه خو پر ځای پریږده.

لنده داچی، پاکستان غواری چی افغانستان د خپلی یوی صوبی( ولایت) په شان اداره کړی. په یاد به مو وی چی په کال (۱۳٦٨) کی دپاکستان پوځی حاکم جنرال ضیا الحق په پاکستان کی کوربه د هغه وخت دمجاهدینو دځینی مشرانو په هو کړه د افغانستان او پاکستان تر منځ دیوه اسلامی فدرالی دولت د جوړولو وړاندیزاو بند وبست کړی وو چی پایلی به یی دیوه آزاد اوخپلواک دولت په توګه دافغانستان له منحه تلل وو.

زما په اند افغان دولت ته ښایی چی نور دپاکستان به اړوند دځان غولونی سیاست پریږدی اوکه هیچ نشی کولای، لږ تر لږه له خپل دشمن نه، دپاکستان پنجابی واکمنانو نه د "کام چلاو" سیاست اوکرنلاره زده کړی. پاکستان دخپل لند تاریخ په اږدو او دسړی جګړی په شرایطوکی د خپل ستراتیژیک وضعیت په وجه د غربی نړی سره په اړیکو کی تر ټولو زیاته ګټه پورته کړه اوپه یوستر پوځی اتمی ځواک بدل شو. د ترخګړیَ په ضد له نړیوال ایتلاف سره د تش په نامه هوکړی په بدل کی یی په ملیاردونو دالره مرستی تر لاسه کړی او مونږ؟ بی شکه چی مونږ زمریان یو، زمریان ! خو نن له ګیدری سره دمقابلی وس نه لرو اوکور مو هم وران شو.

سره له دی چی دافغانستان حکومت په تیرو لسو کلونوکی د ترخګری سره په جګړه کی د پاکستان ددوه مخی او درغلی نه ډ کی تګ لاری د بربنډ ولواوشندولو لپاره ډیری ښی شیبی له لاسه ورکړی دی خو دادی نن یوځل بیا داسی موکه را رسیدلی ده چه دافغانستان حکومت د امریکی دمتحده ایالاتوسره د( ۱۳۹۱) کال دستراتیژیکی ملګرتیا د تړول پر بنا د افغانستان د امنیت په هکله د امریکی دحکومت ژمنی وآزمایی. نن امریکایان دتروریزم سره دجګړی او ځینی پټو اوښکاره مخو( مقصدونو) په وجه دافغانستان ملتیا ته اړ دی اوغواړی چی دلته پوځی اډی جوړی کړی. مونږ هم امنیتی اړتیا اوستونځی لرو چی اساسی عامل یی پاکستان دی. دافغانستان حکومت اودافغانستان ددولت مشر ښاغلی حامد

کرزی ته ښایی چې دامنیتي تړون پر سر خبروکی دامریکی له حکومت سره داخبره سپینه کړی چه په رښتیا دافغانستان امنیت ته ژمن دی اوکه نه ، که د پاکستان له خاوری څخه افغانستان ته دجګړه مارو اوترخګرو لیږل اویا دافغانستان په خاوره دپاکستانی پوځ راکیټی بریدونه دوام وکړی، دامریکا غبرګون به څه وی؟؟

دملګرو ملتونو دمنشور د (۵۱) مادی سره سم هریو دولت حق لری چه دبهرنی یرغل په صورت کی په خپله اویا په ډله ایزه توګه له خپل حاکمیت او ځمکنی بشپړتیا نه دفاع وکړی. اوس که افغان دولت دی ته اړ شی چی دافغانستان خاوری ته د وسله والو بانډونواو ترخګرود ور لیږلو او دپاکستان دپر له پسی تیریو دبند ولو په مخه، دامریکی څخه پوځی مرسته وغواری، آیا دامریکی دولت به دافغانستان تر شا ودریږی؟ ایا دامریکی دولت لږ تر لږه دی ته چمتو دی چی افغانستان ته درندی وسلی اوجنګی اولوتکی ورکړی؟

که داسی نوی او د امریکی حکومت د تیرو لسو کلونو په څیر دپاکستان په شان له افغانستان سره د " کام چلاو" سیاست پرمخ بیایی نو بیا دامریکی سره د امنیتی تړون لا سلیک کول چی دهغی سر سم به دامریکی دپوځ یوه برخه داوږدی مودی لپاره دلته پاتی شی، د افغانستان لپاره څه ګټه ولری ؟ ښکاره ده چی د پخوا په شان به د تروریزم سره دمبارزی تر نامه لاندی بیاهم زمونز دخلکو په کلو او کورونو د بمونو غورځول ، زمونز دوطن ورانول اود ملت سپکول اوځورول دوام وکړی خو سوله به ټینګه نشی. داټول هغه څه دی چی پاکستان یی غواری.

لکه څنګه چی وړاند وویل شول پاکستان په تیرو لسو کالونوکی د ترخګری پرضد دنړیوال ائتلاف سره د تش په نامه هوکړی په وجه ملیاردونه دالره مرستی تر لاسه کړی، افغانستان وران اوویجاړ شو خو پاکستان خپل " کام" ته ورسید. په قبایلی سیمواودډیورند دکرښی په اوزدوکی یی خپل پوځی شتون مضبوط کړ؛ دپښتنو اوبلوڅو ملی غورځنګ یی وتکاوه.

اسامه بن لادن او دالقاعدی ډیري مشران د پاکستان پوځی اډو ته په څیرمه سیمو کی وموندل شول خو ړانده بمونه د پښتنو په سیمو ووریدل. اوس چی د طالبانو سره دسولی دخبرو په باب څه امید را پیداشویدی، د پاکستان ستراتیژی جورونکی کړی هڅه کوی چی په لمړی سر کی ددی بهیر مخه ونیسی اوکه داسی ونشول نو بیا دسولی په بهیر کی په ورګډیدوسره غواری چی په افغانستان کی داحتمالی سولی وروستی پایلی د پاکستان له ګتو سره سمون ولری. نن دپاکستان حکومت په یو وخت کی دا دواړی تګلاری خپلی کړی دی. له یوی خوا په افغانستان کی دننه دسولی د بهیر مخور شخصیتونه وژنی، دطالبانو وسله وال اوملکی لوړ پوړی کسان په خپله قبضه کی ساتی اونه یی پریږدی چه د افغان حکومت سره اړیکه ټینګه کړی، له بلی خوا په افغانستان که دسولی دشرایطو اوڅرنګوالی په اړوند له امریکا یانو اوانګلیسانو سره په خبرو بخت دی. ویل کیژی چه په دی وروستیو میاشتوکی امریکایانو ان له پا کستان څخه غوښتی چی دطالبانو سره په خبرو کی د امریکایی اړخ نمایندګی وکړی. په دی وجه ده چی په تیرو څو میاشتوکی دپاکستان دننه د طالبانو او القاعدی په مرکزونو اوپت جایونو دامریکایی بی پیلوته الوتکو بریدونو په ټپه دریدلی دی. په افغانستان کی **دسولی دبهیر قومی کول** چه بیلګه یی د فرانسی په ناسته کی چی د د سامبر د میاشتی په شلمه او یوویشتمه تر سره شوه وینو، د پاکستان له ستراتیژۍ سره په نیغه ټراو لری. پاکستان هڅه وکړه دافغان حکومت تر مشری لاندی دسولی برنامه ناکامه کړی، طالبان دیوه آزادی غوستونکی غورځنګ په توګه په رسمیت وپیژندل شی تر څو په خپله خاوره کی دهغوی شتون له نړیوالو حقوقو سره سم چلند وبولی

د حیرانتیا ځای دادی چی افغان دولت لا تر اوسه هم خپلو تش په نامه ستراتیزیکو ملګرو، امریکی او انګلیس ته ، دافغانستان خلکو ته د پاکستان به اړوند په یوه خوله اویوه خبره نه کوی اوهغه داچی " دپاکستان حکومت د افغانستان دوست نه دی". افغان ولس مشرَ ښاغلی کرزی یوه ورځ د پاکستان له

ورا نکاریو سر ټکوی خو بله ورځ وایی چی پاکستان یو ورور هیواد دی او خدای مه کړه که کوم وخت د امریکی او پاکستان تر منځ جګړه را منح ته شی نو بیا به افغانان د پاکستان تر څنګ ودریږی. نن دپاکستان پر امنیتی ځواکونو په رسمی توګه تور لګوی چی دښاغلی برهان الدین ربانی او ښاغلی اسدالله خالد اونورو مخورو شخصیتونوپه وژلو کی لاس لری، پا کستان بیا دادرغ وبولی او زمونږ په ږیره وخاندی خو سبا له یوه ساده دیپلوماتیک غبرګون پرته لکه دسفیر رابلل اویا د دوه اړخیزو خبروپه محال ویش کی بدلون را وستل، له پاکستانی لوری سره په یوه ټغر اودسترخوان ناست اولاس ورسره یوموټی کړی. زه نه پوهیږم چه کله به دافغانستان دولت دی نتیجی ته ورسیږی چی سوله په ګدایی نه تر لاسه کیږی او هغه هم له پاکستان څخه. زما په اند له پاکستان نه نور دا تمه چی په افغانستان کی به دسولی په را وستلو کی د خدای لپاره اوبی غرضه مرسته وکړی، بی ځایه او ځان غلول دی.

د پاکستان پنجابی واکمنو په تیرو دریو لسیزو کی افغانستان تر خوړ (ماته) ګوته نیولی او له یوی ستری لاسته راوړنی پرته به او یا داچی دد ی اور لمبی یی خپلی لمنی ته و رسی او خپل هډ یی مات شی، دا فغانستان دا ماته ګوته خوشی نکړی. پاکستان دافغانستان حکومت ته په ډاګه ویلی دی چی دسولی په بدل کی افغانانو ته ښایی له پاکستان سره دستراتیژیکی ملګرتیا تړون لاسلیک کړی چی په هغه که به دپاکستان ټولی غوښتنی اوپه دی لړ کی ددیوند دکربښی په رسمیت پیژندل هم نغښتی وی. ښکاره ده چی په اوسنیو شرایطو کی له پاکستان سره دداسی یوه ستراتیژیک تړون لاسلیک به دافغانانو لپاره ملا ماتونکی او له ستراتیژکی او سوق الجیشی ماتی پرته بل څه نوی. بی له شکه چی دپاکستان او افغانستان تر منځ پرتی ستونځی باید ددواړو هیوادونو د مشروع ګټو په پام کی نیولو سره په بنیادی توګه حل شی خو ددواړو هیوادونو په اړیکو کی داسی ټکی شته چی حل اوفصل یی په مناسبه موکه ژورو او هر اړخیزو خبرو ته اړتیا لری. داسی ستونځی هم شته چی افغان حکومت یی په یوازی سر له پاکستان سره دجوړ جاړی واک نه لری. په اوس وخت که د افغانستان حکومت ته ښایی چی له خپلو ستراتیژیکو ملګرو څخه وغواړی چی پرپاکستان هر اړخیززور واچوی ترڅو دافغانستان په چارو کی لاس وهنه بنده کړی.

زما ویره داده که د افغانستان حکومت ژر تر ژره دپاکستان به اړوند پر خپل شنډ سیاست نوی کتنه اونظر ونکړی کیدای شی چی دسولی له خبروڅخه هم ګوښه پاتی شی. امریکایان به له پاکستان ، طالبانو اود پخوانیو مجاهدینو له مشرانو سره یوه جوړ جاړی ته ورسی اویا داچی څو کلونه نور به په افغانستان کی دننه له طالبانو سره په جګړه او اخ ، ډب بخت وی؛ په پای کی به ستړی اوخپلی پښی بیخی سپکی کړی؛ نړیواله ټولنه به هم افغانستان هیر کړی او زمونږ هیواد به یو ځل بیا د ګا وندیانو دوزلوبی ډګر وګرځی.